بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم
د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم، نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنیزه، علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani



د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



صيام الدين « پسرلی »

د نشر نیټه : 28 جولای 2015 م

# ټیبنته د حل لاره نه ده!

که د نړی تاریخ ته وګورو، ټول هیوادونه په تیره هغه چې مستعمره و، په اسانۍ سره خپلواکۍ نه دي ترلاسه کړي. دوی شپه او ورځ کار کړي، په ځانونو یې سختي تیرې کړي دي. ښځي او نارینه یې زده کړي کړي، ځانونه یې د خپل خاورې او خلګو لپاره قرباني کړي دي.
امریکا متحده ایالات یو وخت د انګلستان مستعمره وه، انګلیس هغه وخت ډېر لوی امپراطوري درلود او پر ټوله نړی یې د حکومت کولو ادعا کوله. خو امریکایانو سره د ډېرو ستونزو او قربانیو په ۱۴۹۴ کال کې خپل خپلواکۍ واخیست. اوس دوی پر نړۍ مسلط دي.
جاپانیان د امریکایانو تر یرغل لاندې راغلل او امریکا پرې اتوم بم استعمال کړ، خو جاپانیانو خپل همت د لاسه ور نه کړل، شپه او ورځ یې په ځان یوه کړه او خپل هیواد یې بیا جوړ کړل.
استاد عبدالرب رسول سیاف وویل: (د ځینو هیوادونو څخه زه دوه کاله مشریم) هدف یې مشخصاً پاکستان و. پاکستان په دومره کم وخت کې دومره ډېر پرمختګ وکړ.
بنګلدیش په دې اواخرو کې خپل آزادي له پاکستان څخه واخیست، چې له ډېرو هیوادونو څخه ښه دی.
المان، چین، ایران، روسیه هیوادونه د امریکا او انګلیس د هیوادونو او همدارنګه پخپلو منځونو کې سیالي لري، هر یو هڅه کوي چې تر نورو ځانونه قوي او په عصري وسلو سنبال کړي.
خو زموږ هیواد بیا د تاریخ په اوږدو کې تل فقیر، بې چاره، د پردیو تر حملو او لاسوهنو کې قرار درلود او لا هم په همدې حالت کې دی. د پورتنیو یادو هیوادونو د پرمختګ لامل د هغوی د ولسونو پرله پسې هڅیدي.
د هغوی ولسونه پخپلو ځانونو شپې او ورځې یو کړي دي او خپل هیوادونه یې د پرمختګ دې مرحلې ته رسولي دي. زموږ خلک د تاریخ په اوږدو کې ان تر دې دمه چې لږ رسیدلي دي بیا هیواد یې پریښی نورو هیوادونو ته تښتیدلي دي.
زموږ د کلیوالو ژوند چې لږ ښه شوي، ولسوالۍ ته کډه شوي دي، خو چې لږ نور هم ښه شوي بیا د ولایت مرکز ته همداسې د هیواد پایتخت کابل ته بالاخره نورو هیوادونو ته کډوال شوي دي.

د هر هیواد ځخه چې کدرونه وتښتي، حالات یي له دې هم بدتر کیږي. زه داسې خلک پیژنم چې تر ماسټرۍ پورې زده کړې کړي دي، په ښو دولتي او غیري دولتي پوستونو کې کار کول، خو چې د خارج د تګ زمینه ورته برابره شوي، بې له دې چې د هیواد او هیوادوالو د خدمت لپاره فکر وکړي، په تیښته بریالي شوي دي.
پوهیږم موږ په ډېرو سختو حالاتو کې ژوند کوو، خو دا حالات بدلون او سمون غواړي، راتلوونکي نسلونه مو په تمه دي، چې پخپل خاوره کې د سولې او ورورولۍ په فضا کې ژوند وکړي. ددې بهراني حالاتو حل په تیښته نه بلکې په زیار او قرباني ورکولو کې ده.

اوس ژوند د زړه په وینو تیروو
حالات چې ښه شو بیا به مینه کوو.

یو وخت د یو امریکایی پالیسي جوړونکي ځخه چا پوښتنه وکړه، چې تاسو د راتلوونکي سلو او دوه سوو ان د پنځه سوو کلونو لپاره پالیسي او استراتیژي جوړوئ، په داسې حال کې چې تاسو تر دې وخته پورې ژوندی ونه وسئ. پالیسي جوړونکی په ځواب کې وویل:(مهمه نه ده، چې زه ژوندی ووسم، مهمه داده چې زموږ راتلوونکي نسلونه ددې پالیسو په عملي کولو ارامه او خوشاله ووسي.)
تر هغه چې موږ هم د خپلو راتلوونکي نسلونو لپاره کار ونه کړو، همداسې به بدو حالاتو کې ووسو. زموږ نسلونه نه دا چې موږ ته به دعا ونه کړي بلکې لعنت به ووایی.
زه داسې وړاندیز کوم، چې هغه کدرونه او فعال افغانان چې د خارجي هیوادونو په جوړولو بوخت دي، باید بیرته ستنه شي او د هیواد پر ابادولو متې بډ ووهي.
هغه ځوانان چې په هیواد کې دي، د حب الوطنی په خاطر باید په هیواد کې پاتې شي.
لکه ځنګه چې ځوانان په خارج کې په کارکولو نه شرمیږي، هر ډول شاقه کارونه کوي، دلته هم باید ونه شرمیږي.
حکومت باید خپل سرحدات کنترول کړي، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي، سوله او ثبات تامین کړي، د زده کړي تر ځنګ لنډ مهالي او اوږدمهالي پروژې پلان او تطبیق کړي.
نفاق او تعصب موږ د بربادۍ په لور سوق کوي، باید هڅه وکړو، چې متحد ووسو. باید هیر نه کړو، چې نور هیوادونه د سلو ژبو، نژادونو، مذاهبو، فرهنګو سره سره بیا هم سره متحد دي او یو بل ته د قدر په سترګه ګوري. ایا موږ نه شو کولای چې په دغه وړوکی جغرافیوی ساحه کې له دومره محدود وګړو سره په متحد ډول ژوند وکړو؟ (کولای شو)
په پای کې همدومره وایم، زه وجداناً ډېر خوشالیږم چې خپل هیواد او هیوادوالو ته د زړه له کومي کار وکړم، که بل هیواد کې ووسم شاید چې کار وکړم خو په هغه مینه او خلوص چې خپلو خلکو ته کولای شم، نورو ته به ونه کړم. هر هغه وخت چې خپل خلک مې ارام شو، او فرصت مې پیدا کړ چې د نورو هیوادونو لپاره ورسیږم. په ډېره خوشالی به دا کار وکړم، خو تر ټولو مهمه زما خلک او خاوره ده.
که پر دې ولس او خاوره مې سر هم قربانیږي ځان ویاړلی بولم. خاوره مور ده د مور ساتل فرض دی.

دا ونې، بوټي، واورې او ګلونه مې وطن دی
دا غرونه مې هډوکي دي دا خاوره مې بدن دی
بېشکه چې بې وسه یم خو نه داسې ورک نه یم
په موټي کې مې اوس هم خپله خاوره خپل وطن دی

د مبارزو ځوانانو د ټوکېدو په هیله .

صیام الدین « پسرلی » کابل

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی